بسم الله الرحمن الرحیم

جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستی نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ،که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړی، نړی والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۱۹ لړم ۱۴۰۵ هـ ش | ۲۹ جمادی الأولی ۱۴۴۸ هـ ق | ۱۰ نومبر ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۵۲)

معاون قضائی ستره محکمه در رأس یک هیئت از امورات محاکم ولایت غزنی بازدید نمود

محترم شیخ محمد قاسم «راسخ» صاحب معاون قضائی مقام عالی ستره محکمه، با همراهی محترم مفتی محمد ابراهیم جان «ابوالحفاظ» رئیس عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه به تاریخ ۱٤٤۸/٥/۲۰ هـ ق، از کارها و امورات محاکم ولایت غزنی بازدید کرد.

محترم شیخ محمد قاسم «راسخ» صاحب در این سفر با مسئولین و منسوبین محکمه مرافعه، رؤسای محاکم ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های (۱۸) گانه آن ولایت طی یک جلسه ملاقات کرد.

جلسه با تلاوت چند آیات از کلام لله مجید توسط قاری عبدالجمیل «حنظله» عضو محرر دیوان مدنی محکمه مرافعه آغاز گردید؛ سپس مفتی عزیزالله «حیدری» رئیس محکمه مرافعه ولایت غزنی ضمن خوش آمدید به هیئت عالی رتبه ستره محکمه، در خصوص برگزاری مجلس مذکور تقریر نموده و از کارکردهای محاکم آن ولایت وضاحت داد.

بعدًا محترم مفتی محمد ابراهیم جان «ابوالحفاظ» رئیس عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه صحبت نموده و به قضات آن ولایت تأکید کرد که در امورات روزمره مردم از توجه خاص کار بگیرند.

به همین ترتیب محترم شیخ محمد قاسم «راسخ» صاحب معاون قضائی ستره محکمه صحبت همه جانبه نمود و از قضات محاکم آن ولایت خواست که در کارهای شان اخلاص را در نظر گرفته با مردم برخورد نیک داشته باشند و در خصوص حل مشکلات مردم مطابق اصولنامه‌های اداری، حقوقی و جزائی، متحدالمآل‌های شورای عالی ستره محکمه و کتب فقهی امورات یومیه خویش را به وجه احسن به پیش ببرند.

علاوه بر این، هیئت متذکره ستره محکمه در جریان سفر به ولایت غزنی، با محترم والی، قوماندان امنیه، رئیس استخبارات و مسئولین سایر ادارات ولایتی آن ولایت نیز دیدار و ملاقات نموده و پیرامون تقویت هماهنگی و همکاری میان ادارات ذیربط ولایتی و محاکم، بحث و تبادل نظر مفصل نمود.

در پایان، هیئت بلندپایه ستره محکمه، نیازهای محاکم ولایت غزنی را استماع نموده و از رسیدگی و رفع آن اطمینان داد.

با تلاش رئیس محکمه مرافعه ولایت کاپیسا یک قضیه قتل حل و فصل گردید

با تلاش الحاج مولوی عزیز الرحمن «حقانی»رئیس محکمه مرافعه ولایت کاپیسا؛ مولوی سراج الدین «راشد» رئیس دیوان جزا محکمه مرافعه، مولوی عبدالرؤف «سعادت» رئیس محکمه ابتدائیه شهری، شیخ رحمت الله «مظهری» عضو مفتی دیوان جزا مرافعه، مولوی محمد حنیف عضو محرر دیوان جزا مرافعه و تعدادی دیگری از مسئولین امارتی با اشتراک شیخ اسدالله «سنان» معاون مقام ولایت، مولوی سید اشرف عضو شورای علماء، مفتی عبدالخالق «حقانی» مستوفی ولایت، علماءکرام، اراکین امارتی، موی سفیدان و متنفذین محل، به تاریخ ۱ /٥/ ۱٤٤۸ هـ ق یک قضیه قتل طی نشست حل و فصل گردید.

در این نشست طرفین در مقابل یک مقدار مال به عنوان خون بها (دیت) به صلح تن داده، دو خانواده در حضور داشت مسئولین همدیگر را به آغوش کشیده تعهد نمودند که در خصوص موضوع مذکور در حال و آینده دعوی ومناقشه نخواهند داشت.

د سترې محکمې د مرکزي تمیز د امنیت عامه دېوان له رئیس محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

د سترې محکمې د مرکزي تمیز د امنیت عامه دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرحمن (عزیزي) صاحب، تر ټولو مخکې در ته نبوي تحفه (السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته) وړاندې کوو او منه کوو، چې له ډېرو مصروفیتونو سره سره مو د اسلامي عدالت خپرونې لپاره مورِ ته خپل قېمتي وخت راکړ او دې خپرونې ته درته هر کلی وایو.

لومړی پوښتنه: مفتي صاحب محترم که د خپرونې په پیل کې په دې اړه معلومات راکړئ، چې په ستره محکمه کې د امنیت عامه دېوان د جوړېدو اساسي موخه څه ده او دغه دېوان په قضائي نظام کې څه مسئولیت لري؟

ځواب: لومړی خو ستاسو سلام ته وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته وایم او ډېر خوشحاله یم، چې د اسلامي عدالت په دې خپرونه کې له تاسو سره ګډون لرم؛ ســـتاسو د مطرح شوې پوښتنې په ځواب کې باید ووایم، چې د امنیت عامه دېوان د جوړېدو اساسي موخه د هغو جزائي قضیو څېړنه او فیصله ده، چې د قانوني صلاحیت له مخې دغه دېوان ته راجع کېږي. دغه دېوان په قضائي نظام کې د هغو جرمي اعمالو په اړه د عدالت تأمین، د حقونو ساتنه او د شرعي احکامو او نافذه قوانینو تطبیق پر غاړه لري، چې د دېوان په صلاحیت کې شامل وي.

د امنیت عامه دېوان د خپلو صلاحیتونو په حدودو کې د قضیو اسناد او شواهد څېړي، د دعوې اړوند دلایل ارزوي، د جانبینو څرګندونې اوري او د قضیې د شرعي او حقوقي اړخونو له بشپړې څېړنې وروسته مناسبه قضائي پرېکړه کوي.

امنیت عامه دېوان د درغلیو، خیانت، مخدره موادو اړوند جرمونو او نورو هغو جزائي قضیو په څېړنه کې، چې د دغه دېوان په صلاحیت پورې اړه لري، مهم مسئولیت لري؛ همدارنګه، د قضائي اصولو رعایت، د متهم د حقونو ساتنه، د جرم د اثبات لپاره د معتبره دلایلو ارزونه او د بې‌طرفۍ او عدالت تأمین د دغه دېوان د قضائي مسئولیتونو مهمې برخې دي.

دویمه پوښتنه: د امنیت عامه دېوان تر صلاحیت لاندې کومې مهمې حقوقي او جزائي قضیې راځي؟

ځواب: د امنیت عامه دېوان تر صلاحیت لاندې هغه مهمې حقوقي او جزائي قضیې راځي، چې د نافذه اصولو او مقرراتو له مخې د دغه دېوان د صلاحیت په محدوده کې شاملې وي؛ په دې قضیو کې په ځانګړې ډول د امارت د اړوندو امارتي ادارو د مسئولینو او کارکوونکو جزائي او حقوقي قضیې، د هغو اشخاصو او ډلو اړوند قضیې، چې د نظام پر وړاندې د فعالیتونو په تور نیول کېږي او موضوع یې د دغه دېوان په صلاحیت کې وي او همدارنګه د درغلیو، خیانت او مخدره موادو اړوند جرمونو، لکه: جعل او تزویر، له دندې څخه ناوړه ګټه اخېستنه، تمرد، جعلي پیسې، بډې اخېستل، ارتداد، اختلاس، د اسلام او شعائر الله تعالی توهین کول، د مجاز اموالو و غیر مجاز مال قاچاق، د خاصه مرعی دعوی، اخاذي، د سلاح قاچاق او د هغې غیر قانوني استعمال او انتقال او نورو ورته جزائي قضیو ته رسېدنه شامله ده؛ چې د (۴۹) متحدالمآل د موضوعاتو په جدول کې شامل دي.

دغه راز، د قضیې د نوعیت او قانوني صلاحیت له مخې، هغه نورې جزائي او حقوقي دعوې هم د امنیت عامه دېوان تر څېړنې لاندې راځي، چې د اړوندو مراجعو له لورې ورته راجع شي.

درېیمه پوښتنه: د امارتي ادارو د کارکوونکو کوم ډول جرمونه او موضوعات د امنیت عامه دېوان له لورې څېړل کېږي؟

ځواب: د امنیت عامه دېوان د صلاحیت له مخې، د اسلامي امارت د ټولو ادارو د مسئولینو او کارکوونکو حقوقي او جزائي دعوې، چې مدعی علیه واقع شي د دغه دېوان تر څېړنې او رسېدنې لاندې راځي، پرته له هغو درېیو نظامي او امنیتي ارګانونو (دفاع او کورنیو چارو وزارتونه او استخباراتو لوی ریاست) څخه، چې د دغو ارګانونو اړوند قضیې د خپلو ځانګړو قضائي مراجعو له صلاحیت سره سمې څېړل کېږي.

له همدې امله، د اسلامي امارت د نورو ټولو وزارتونو، ادارو او اړوندو ارګانونو د مسئولینو او کارکوونکو هر ډول حقوقي او جزائي دعوې، چې د قضیې د موضوع او ماهیت په پام کې نیولو سره، د امنیت عامه دېوان اړوند دي.

پاتې برخه ص ۲

د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته
د عمر فاروق ﷺ په دوره کې قضاء:
۲۷مه برخه:

په رد المحتار کې راځي: «دا خبره: چې په همدې باندې فتوا ده» له دې سره ټرلې چې: «د دوی دواړو امامانو په نظر دي په هر حالت او قضیه کې د شاهدانو د حال پوښتنه وشي». په البحر کې وایي: نتیجه دا شوه، چې که مقابل خصم طعن او نیوکه وربانديې وکړي، په هره قضیه او حالت کې یې دي د حالت پوښتنه وشي؛ خو که طعن نه و، بیا د یوازې په حدودو او قصاص کې پوښتنه وشي او په نورو کې بیا یې داسې ویلي: دا د زمان او وخت اختلاف دی او په وخت کې فتوا د امامانو په قول سره ده؛ همداسې په هدایه کې هم راغلي.

«مګر هغه څوک چې په کوم حد کې دُرې ورکړل شوې وي» موخه دا ده، چې په تهمت باندې حد ورکړل شوی وي او په ځینو روایاتو کې داسې راغلي، چې: «مګر هغه چې په قذف (تهمت) باندې حد ورکړل شوی وي». دا زمور لپاره دلیل دی، چې په تهمت باندې پر چا حد جاري شوی وي، شاهدي یې نه فبلېږي، که څه هم توبه وباسي. دلته چې د تهمت له امله حد وربانديې جاري شي، هغه عدالت له منځه ځي، چې د شاهدي ورکولو لپاره معتبر دی، لکه څنګه چې الله ﷻ اشاره ورته کړې او فرمایلي یې دي: «او د هغوی شهادت هېڅکله مه فبلوئ» [النور/٤]

اخذلیک: د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۲مه صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

د سترې محکمې د امنیت عامه دېوان...

په دې قضیو کې د دندې پر مهال د سرغړونو، مالي درغلیو، خیانت، د نورو اشخاصو د حقونو د تلفولو او نورو حقوقي او جزائي موضوعاتو دعوې شاملې دي؛ دغه دېوان یادې قضیې د شرعي احکامو او نافذه اصولو په رڼا کې څېړي او په اړه یې لازمې قضائي پرېکړې کوي.

څلورمه پوښتنه: د وظیفوي صلاحیت څخه ناوړه ګټه اخېستنه، خیانت او د عامه مالونو اختلاس څه ډول قضائي مسئولیت رامنځته کوي؟

ځواب: د وظیفوي صلاحیت څخه ناوړه ګټه اخېستنه، خیانت او د عامه مالونو اختلاس هغه اعمال دي، چې د جرم د ماهیت، د مرتکب د عمل او د موجودو دلایلو له مخې د شرعي او حقوقي مسئولیت سبب ګرځي؛ امارتي مسئولین او کارکوونکي مکلف دي، چې خپل مسئولیتونه د امانت، صداقت او عدالت پر اساس ترسره کړي او له خپل رسمي مقام او صلاحیت څخه د شخصي ګټو لپاره ناوړه استفاده ونه کړي.

که یو مسئول یا کارکوونکی له خپل وظیفوي صلاحیت څخه ناوړه ګټه واخلي، د سپارل شوي امانت په ساتنه کې خیانت وکړي یا عامه مالونه په ناحقه خپل ملکیت وګرځوي؛ نو د قضیې د اثبات او شرعي حکم له مخې، د هغه پر وړاندې قضائي تعقیب ترسره کېدای شي؛ د جرم له نوعیت او شرایطو سره سم، د حقونو بېرته ترلاسه کول، د مالي زیان جبران، د غصب شوي یا اختلاس شوي مال اعاده او د شرعي حکم مطابق تعزیري یا نور لازم جزائي اقدامات مطرح کېدای شي.

د امنیت عامه دېوان د خپل صلاحیت په حدودو کې دا ډول قضیې د اسنادو، شواهدو، د اړخونو د څرګندونو او نورو معتبرو دلایلو پر اساس څېړي او د شرعي احکامو او نافذه اصولو مطابق پرېکړه کوي، څو د عامه مالونو ساتنه، د امانت حق اداء کول او د خلکو د حقوقو خوندیتوب تأمین شي.

پنځمه پوښتنه: د فرېبکاری، جعل، تزویر او اخاذی قضیې څنګه څېړل کېږي او د اثبات لپاره یې کومو دلایلو ته اړتیا ده؟

ځواب: د فرېبکاری، جعل، تزویر او اخاذی قضیې د امنیت عامه دېوان له لوري د قضیې د ماهیت، د اړوندو اشخاصو د حقوقي وضعیت او د موجودو دلایلو په پام کې نیولو سره، د شرعي احکامو او نافذه اصولو مطابق څېړل کېږي؛ په دې ډول قضیو کې لومړی د دعوې څرګندونې، د پېښې جزئیات، د ادعا شویو اعمالو د ترسره کېدو څرګندونې او د اړوندو اشخاصو مسئولیت ارزول کېږي، وروسته د قضیې اسناد، شواهد او نور اړوند معلومات تر څېړنې لاندې نیول کېږي، څو د ادعا حقیقت او د جرم د اثبات یا نه اثبات په اړه لازم وضاحت رامنځته شي؛ د دغو قضیو د اثبات لپاره د قضیې له نوعیت سره سم لاندې دلایل ارزول کېدای شي:

- اقرار: د شرعي شرایطو مطابق د متهم معتبر اقرار؛
- شهادت: د شرعي اصولو مطابق د واجدو شرایطو لرونکو شاهدانو ګواهي او یا د یوه عادل سړي اخبار او یا دوو مستور الحال اشخاصو شهادت؛
- اسناد او مدارک: قراردادونه، رسیدونه، مالي اسناد، رسمي مکتوبونه او نور اړوند اسناد، چې د قضیې په حقیقت رڼا واچوي؛
- تخنیکي او تخصصي شواهد: د جعل او تزویر په قضیو کې د لاسلیک، مهر، خط، سند او نورو اړوندو مواردو تخصصي ارزونه؛
- قراین او نور معتبر شواهد: هغه قراین او معلومات، چې د قضیې له نورو دلایلو سره یوځای د حقیقت په روښانولو کې مرسته وکړي او شرعًا او قانونًا د اعتبار وړ وي.
- په پای کې، محکمه د ټولو اړوندو دلایلو له ارزونې وروسته، د شرعي احکامو او نافذه اصولو په رڼا کې پرېکړه کوي؛ یوازې ادعا یا بېدلیله تور د جرم د اثبات لپاره کافي نه دی؛ بلکې قضائي پرېکړه باید پر معتبرو دلایلو او د قضیې پر دقیقې څېړنې ولاړه وي.

شپږمه پوښتنه: د نشه‌یي موادو د ساتلو، انتقال، خرڅلاو او قاچاق اړوند قضیو ته د امنیت عامه دېوان د رسېدنې بهیر څنګه ترسره کېږي؟

ځواب: د نشه‌یي موادو د ساتلو، انتقال، خرڅلاو، اعتیاد او قاچاق اړوند قضیې د امنیت عامه دېوان له لوري د خپل ټاکل شوي صلاحیت په حدودو کې د شرعي احکامو او نافذه اصولو مطابق څېړل کېږي او په اړه یې لازمې قضائي پرېکړې ترسره کېږي.

په دې ډول قضیو کې لومړی د پېښې څرګندالی، د نیول شویو موادو نوعیت او اندازه، د موادو د ساتلو، انتقال یا خرڅلاو څرګندالی او له پېښې سره د اړوندو اشخاصو اړیکه څېړل کېږي. همدارنګه، د اړوندو مراجعو راپورونه، د نیول شویو موادو د تشخیص او تثبیت اسناد، د ضبط او کشف صورت مجلسونه، د شاهدانو څرګندونې او نور معتبر شواهد ارزول کېږي.

د قضیې د څېړنې پر مهال هڅه کېږي، چې د هر شخص مسئولیت په جلا توګه مشخص شي او د موجودو دلایلو پر بنسټ معلومه شي، چې نومورې په پېښه کې څه ډول ونډه لري؛ یوازې د یوه شخص موجودیت یا له بل متهم سره اړیکه، پرته له کافي دلایلو، د جرم د انتساب لپاره کافي نه ګڼل کېږي.

له بشپړې څېړنې او د دلایلو له ارزونې وروسته، امنیت عامه دېوان د قضیې د حقیقت، د جرم د اثبات او د اړوندو شرعي احکامو او نافذه اصولو په پام کې نیولو سره پرېکړه کوي او د جرم د نوعیت او شرایطو مطابق لازم شرعي او قضائي حکم صادروي.

د دغه بهیر اساسي موخه د نشه‌یي موادو اړوند جرمونو پر وړاندې قانوني او شرعي رسېدنه، د ټولنې د وګړو د حقوقو ساتنه او د عدالت تأمین دی.

اوومه پوښتنه: د وسلو د غیرقانوني حمل او استعمال او د نورو ممنوعه فعالیتونو اړوند قضیو په اړه د دېوان صلاحیت څه دی؟

ځواب: د وسلو د غیرقانوني حمل او استعمال او نورو ممنوعه فعالیتونو اړوند قضیو ته د امنیت عامه دېوان د خپل ټاکل شوي قضائي صلاحیت په حدودو کې رسېدنه کوي.

د دغو قضیو په څېړنه کې د پېښې څرګندالی، د استعمال شوې یا نیول شوې وسلې نوعیت، د وسلې د لرلو او استعمال قانوني وضعیت، د پېښې انګېزه او له پېښې سره د اړوندو اشخاصو اړیکه په پام کې نیول کېږي.

د قضیې د حقیقت معلومولو لپاره د کشفي او تحقیقي مراجعو راپورونه، د وسلو د ضبط اسناد، د شاهدانو څرګندونې، د پېښې اړوند تخنیکي شواهد او نور معتبر دلایل ارزول کېږي؛ همدارنګه، د هر متهم مسئولیت په جلا توګه څېړل کېږي، تر څو د جرم د اثبات او د هر شخص د ونډې په اړه روښانه قضائي تصویر ترلاسه شي.

د نورو ممنوعه فعالیتونو په اړه هم، که چېرې اړوند قضیه د امنیت عامه دېوان په صلاحیت کې شامله وي، د شرعي احکامو او نافذه اصولو مطابق څېړل کېږي او په اړه یې لازمې پرېکړې ترسره کېږي.

په پای کې، دېوان د قضیې د ټولو اړخونو او دلایلو له ارزونې وروسته، د جرم د نوعیت، شرایطو او د اثبات د کچې په پام کې نیولو سره شرعي او قضائي حکم صادروي؛ د دغه بهیر موخه د عامه امنیت ساتنه، د جرمونو مخنیوی، د حقونو خوندیتوب او د عدالت تأمین دی.

اتمه پوښتنه: د نظام پر وړاندې د غیرمسلحو فعالیتونو او نظامي فعالیتونو ترمنځ د قضائي صلاحیت توپیر څنګه ټاکل کېږي؟

ځواب: د نظام پر وړاندې د غیر مسلحو او نظامي فعالیتونو ترمنځ د قضائي صلاحیت توپیر د فعالیتونو د ماهیت، څرنګوالي، د مرتکبینو د کړنو او د قضیې د اړوندو شرعي او حقوقي اصولو له مخې ټاکل کېږي. هغه قضیې، چې د نظام پر وړاندې د غیرمسلح فعالیتونو، دسیسو، همکاری، تبلیغاتي فعالیتونو یا نورو ورته کړنو پورې تړاو ولري او د قضیې موضوع د امنیت عامه دېوان په صلاحیت کې شامله وي، د دغه دېوان له لوري څېړل کېږي؛ خو هغه قضیې، چې په نظامي فعالیتونو، وسله‌والې جګړې یا نورو هغو اعمالو پورې اړه ولري، چې د نظامي محکمې او دېوان په صلاحیت کې شامل وي، اړوند نظامي قضائي مرجع ورته رسېدنه کوي.

د صلاحیت د ټاکلو پر مهال یوازې د قضیې نوم یا د متهم ادعا ته کتل بسنه نه کوي؛ بلکې د پېښې حقیقي ماهیت، د ترسره شویو اعمالو څرګندالی، موجود شواهد او د قضائي صلاحیت ټاکل شوي حدود په پام کې نیول کېږي.

په دې توګه، د امنیت عامه دېوان او نظامي محکمې او دېوان هر یو د خپل ټاکل شوي صلاحیت په حدودو کې قضیې څېړي او پرېکړې کوي، څو د قضیو د څېړنې او فیصله کولو بهیر د شرعي احکامو او نافذه اصولو مطابق ترسره شي.

نهمه پوښتنه: د امنیت عامه دېوان او نورو قضائي دېوانونو ترمنځ د صلاحیتونو د تفکیک اساسي معیارونه کوم دي؟

ځواب: د امنیت عامه دېوان او نورو قضائي دېوانونو ترمنځ د صلاحیتونو د تفکیک اساسي معیار د قضیې ماهیت، د دعوې موضوع، د اړوندو اشخاصو حقوقي وضعیت او د قضائي صلاحیت ټاکل شوي حدود دي؛ د دې تفکیک موخه دا ده، چې هره قضیه د هغې د نوعیت او اړوندو شرعي او حقوقي اصولو له مخې په هغه مرجع کې وڅېړل شي، چې د رسېدنې صلاحیت یې لري.

امنیت عامه دېوان د اسلامي امارت د هغو ادارو د مسئولینو او کارکوونکو حقوقي او جزائي دعوو ته رسېدنه کوي، چې د دغه دېوان په صلاحیت کې شاملې وي، پرته له دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او استخباراتو لوی ریاست له کارمندانو څخه، چې اړوندې قضیې یې د ځانګړو قضائي مراجعو د صلاحیت له مخې څېړل کېږي.

همدارنګه، د نظام پر وړاندې د غیرمسلحو فعالیتونو او نورو هغو جزائي قضیو څېړنه، چې د امنیت عامه دېوان په صلاحیت کې راځي، د همدې دېوان مسئولیت دی.

د صلاحیت د تفکیک پر مهال د قضیې حقیقي ماهیت، د پېښې څرګندالی، د دعوې اړوند اسناد او شواهد او د قضائي صلاحیت نافذ حدود په پام کې نیول کېږي؛ که په یوه قضیه کې د صلاحیت په اړه ابهام موجود وي، موضوع باید د ټاکل شویو اصولو او صلاحیت لرونکو مراجعو له لارې روښانه شي.

په ټوله کې، د قضائي دېوانونو ترمنځ د صلاحیتونو دقیق تفکیک د قضیو د منظمې څېړنې، د مسئولیتونو د روښانتیا، د قضائي تداخل د مخنیوي او د عدالت د تأمین لپاره اساسي اهمیت لري.

لسمه پوښتنه: کله چې یوه قضیه امنیت عامه دېوان ته راجع شي، له لومړني ثبت څخه تر وروستی فیصلې پورې کوم پراوونه وهي؟

ځواب: یوه قضیه امنیت عامه دېوان ته تر راجع کېدو وروسته له لومړني ثبت څخه تر وروستی فیصلې پورې لاندې پراوونه وهي:

۱. دوسیه د دېوان د رئیس صاحب په ملاحظه او لاسلیک اخېستلو څخه وروسته د صلاحیت موضوعي په صورت کې مفتي صاحبانو ته په نوبت کې ورکول کېږي.

۲. د قضیې ثبت او د اسنادو ارزونه: د قضیې له راجع کېدو وروسته، اړوند اسناد او مدارک ثبتېږي، د قضیې موضوع او اړوند معلومات ارزول کېږي او د دېوان د صلاحیت په اړه لازم وضاحت ترلاسه کېږي.

۳. د دېوان مفتي صاحبانو له طرفه د قضیې د اسنادو او دلایلو څېړنه: د دعوې اړوند اسناد، د تحقیقي مراجعو راپورونه، شواهد او نور موجود معلومات تر غور او ارزونې لاندې نیول کېږي؛ تر څو د پېښې څرګندالی او د قضیې مهم اړخونه روښانه شي.

٤. د متداعیانو د څرګندونو اورېدل: د قضیې د نوعیت او اړوندو اصولو مطابق، د دعوې د اړخونو څرګندونې اورېدل کېږي او اعتراضونه او دفع د اعتراض یې ارزول کېږي او د متهم د مسئولیت په اړه موجود دلایل څېړل کېږي.

۵. د قضیې شرعي او حقوقي ارزونه: د ترلاسه شویو معلوماتو، اسنادو او دلایلو په رڼا کې د قضیې شرعي او حقوقي اړخونه څېړل کېږي او معلومېږي، چې د ادعا شویو اعمالو په اړه لازم شرایط او د اثبات معیارونه پوره شوي دي که نه.

٦. د قضائي پرېکړې صادرول: له بشپړې څېړنې وروسته، د قضیې د حقیقت، د دلایلو د اعتبار او د شرعي احکامو او نافذه اصولو په پام کې نیولو سره مناسبه قضائي فیصله صادرېږي.

۷. په فیصله او د تائیدی قرارونو کې، چې حکم شوی وي هغه د دواړو طرفینو په حضور کې ابلاغ کېږي.

۸. د فیصلې اړوند اجراآت: له صادرې شوې فیصلې وروسته، د اړوندو اصولو مطابق لازم اجراآت ترسره کېږي او که د فیصلې د بیاکتنې یا اعتراض لپاره کومه قانوني لاره موجوده وي، د هغې د تعقیب موضوع هم د نافذه اصولو له مخې تنظیمېږي.

په ټوله کې، د قضیې له لومړني ثبت څخه تر وروستی فیصلې پورې د دغه بهیر اساسي موخه دا ده، چې هېڅ قضیه له بشپړې څېړنې، د دلایلو له ارزونې او د اړخونو له حقوقي وضعیت څخه د لازمې پاملرنې پرته فیصله نشي؛ بلکې هره پرېکړه د عدالت، د حقونو د خوندیتوب او د شرعي او حقوقي اصولو پر اساس ترسره شي.

۱۱مه پوښتنه: د قضائي فیصلو پر مهال د اقرار، شهادت، اسنادو، قراینو او نورو شرعي دلایلو ارزونه څنګه ترسره کېږي؟

ځواب: د امنیت عامه دېوان د قضائي فیصلو پر مهال د اقرار، شهادت، اسنادو، قراینو او نورو شرعي دلایلو ارزونه د شرعي احکامو، فقهي اصولو او نافذه قضائي مقرراتو په رڼا کې ترسره کوي. د قضائي پرېکړې اساسي بنسټ د قضیې دقیق فهم، د دلایلو اعتبار او د هغو ترمنځ د اړیکې معلومول دي؛ تر څو د حق او حقیقت په څرګندولو کې لازم دقت وشي.

اقرار: د متهم یا اړوند شخص اقرار د شرعي شرایطو له مخې ارزول کېږي؛ د اقرار د صحت، اختیار، وضاحت او د قضیې له موضوع سره د مطابقت په اړه لازم غور کېږي؛ تر څو د هغه شرعي اعتبار معلوم شي.

شهادت: د شاهدانو ګواهي د شرعي اصولو له مخې څېړل کېږي. د شاهدانو اهلیت، عدالت، د شهادت وضاحت، او تزکیه د موضوع سره یې تړاو او د شهادتونو ترمنځ توافق یا تعارض په پام کې نیول کېږي؛ تر څو معلومه شي، چې ګواهي د قضیې د اثبات لپاره د اعتبار وړ ده او که نه.

اسناد او مدارک: رسمي مکتوبونه، قراردادونه، مالي اسناد او نور اړوند مدارک د صحت، اعتبار، اصالت او د قضیې له موضوع سره د تړاو له مخې ارزول کېږي. که د سند د جعل یا تحریف احتمال موجود وي، د هغه د تثبیت لپاره لازمې څېړنې ترسره کېږي.

قراین او نور شواهد: هغه قراین او شواهد چې د قضیې په روښانولو کې مرسته کوي، د هغوی د قوت، اعتبار او له نورو دلایلو سره د مطابقت له مخې ارزول کېږي. هیڅ قرینه باید له خپل شرعي او حقوقي اعتبار څخه لوړه ونه ګڼل شي.

په پای کې، قضائي مرجع ټول دلایل په جلا او ګډه توګه ارزوي، د هغو ترمنځ احتمالي تعارضونه څېړي او د قضیې د ماهیت او د اثبات د شرعي معیارونو په پام کې نیولو سره پرېکړه کوي. که دلایل د شرعي اثبات لپاره کافي نه وي، یوازې د شک یا بې اساسه ادعا پر اساس د جرم اثبات نه شي کېدای؛ په دې توګه، د دلایلو دقیق او اصولي ارزول د عادلانه فیصلې، د بې‌ګناه اشخاصو د حقونو د ساتنې او د شرعي عدالت د تأمین اساسي شرط دی.

۱۲مه پوښتنه: د قضیو د چټک حل او فصل ترڅنګ د شرعي عدالت، بې‌طرفۍ او د خلکو د حقوقو د ساتنې لپاره کوم تدابیر نیول کېږي؟

ځواب: د امنیت عامه دېوان هڅه کوي، چې قضیې په ټاکلي وخت، په دقت او مسئولیت سره حل او فصل کړي؛ خو د قضیو چټکتیا باید هېڅکله د شرعي عدالت، د فیصلې د صحت او د خلکو د حقوقو د خوندیتوب په بیه تمامه نشي. له همدې امله ، د قضیو د چټک حل او فصل ترڅنګ د شرعي اصولو رعایت، بې‌طرفي او د هرې قضیې بشپړه څېړنه ځانګړی اهمیت لري. د دې موخې لپاره لاندې تدابیر په پام کې نیول کېږي:

۱. د مشرتابه محترم عالي مقام د فرامینو او احکامو او د ستړې محکمې عالي مقام تصویبونو او متحدالمآلونو په پام کې نیولو سره.

۲. د قضیو دقیق او منظم مدیریت: د قضیو ثبت، د اسنادو تنظیم او د اړوندو اجراآتو منظم تعقیب د دې زمینه برابروي، چې قضیې له غیرضروري ځنډ پرته وځېړل شي.

۳. د شرعي احکامو رعایت: قضائي پرېکړې د قضیې د ماهیت، معتبرو دلایلو او اړوندو شرعي احکامو پر اساس ترسره کېږي، څو د عدالت غوښتنې او د شرعي مسئولیتونو حق اداء شي.

٤. بې‌طرفي او د دلایلو عادلانه ارزونه: د دعوې د ټولو اړخونو څرګندونو، دفاع او اسنادو ته په لازم دقت کتل کېږي او پرېکړه باید د شخصي اړیکو، تعصب یا له قضیې سره د نامربوطو عواملو تر اغېز لاندې نه وي.

۵. د خلکو د حقوقو ساتنه: د مدعي، مدعی علیه او نورو اړوندو اشخاصو حقوق د شرعي او نافذه اصولو مطابق په پام کې نیول کېږي. د هر شخص مسئولیت باید د معتبرو دلایلو له مخې تثبیت شي او د چا حق باید له شرعي او حقوقي اساس پرته ضایع نشي.

٦. د فیصلو دقت او مسئولانه څېړنه: له پرېکړې وړاندې د قضیې اړوند اسناد او دلایل په بشپړ ډول ارزول کېږي، څو د تېروتنې احتمال راکم او د فیصلې د صحت ډاډ ترلاسه شي.

۷. دېوان امنیت عامه خپل ګزارشات، د اجراآتو او احصائیه راپور په خپل وخت کې د ستړي محکمې له عالي مقام سره شریکوي.

په ټوله کې، د امنیت عامه دېوان په قضائي بهیر کې د سرعت او دقت ترمنځ توازن مهم ګڼل کېږي؛ یعنې قضیه باید نه بې‌ځایه وځنډول شي او نه هم د چټکتیا په موخه له لازمې څېړنې پرته فیصله شي؛ بلکې د شرعي عدالت حقیقي غوښتنه دا ده، چې هره قضیه په عادلانه، بې‌طرفه او مسئولانه ډول وځېړل شي او د هر مستحق حق خوندي پاتې شي.

۱۳مه پوښتنه: د امنیت عامه دېوان کومې مهمې لاسته‌راوړنې لري او د قضیو د حل او فصل په برخه کې یې پایلې څه دي؟

ځواب: د امنیت عامه دېوان د خپلو قضائي مسئولیتونو د ترسره کولو په لړ کې د اړوندو حقوقي او جزائي قضیو د څېړنې، حل او فصل او د شرعي عدالت د تأمین په برخه کې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي. د دغه دېوان اساسي لاسته راوړنه دا ده، چې د خپل صلاحیت په حدودو کې د امارتي ادارو د مسئولینو او کارکوونکو حقوقي او جزائي دعوو ته رسېدنه کوي او د شرعي احکامو او نافذه اصولو مطابق یې په اړه قضائي پرېکړې صادروي.

د قضیو د منظمې څېړنې او د اجراآتو د تعقیب له لارې هڅه کېږي، چې د خلکو او ادارو حقوقي ستونزې حل شي، د جرمونو اړوند قضیې په دقت وځېړل شي، د عامه مالونو او شخصي حقونو د ضایع کېدو مخه ونیول شي او د مسئولیتونو په تثبیت کې عدالت تأمین شي.

همدارنګه، د قضیو حل او فصل د اړوندو اشخاصو او ادارو د حقوقي وضعیت په روښانه کولو، د شخړو په پای ته رسولو او د قضائي نظام پر بهیر د خلکو د باور په پیاوړتیا کې مهم رول لري. د هرې قضیې پر مهال د اسنادو او دلایلو ارزونه او د شرعي اصولو رعایت د دې زمینه برابروي، چې پرېکړې پر معتبر قضائي اساس ولاړې وي.

د دېوان د فعالیتونو د پایلو د دقیقې ارزونې لپاره د ثبت شویو قضیو شمېر، د حل او فصل شویو قضیو کچه، د قضیو د څېړنې موده او نور مستند احصائیوي معلومات مهم دي؛ د دغو معلوماتو پر اساس د دېوان د فعالیتونو اندازه او پایلې په روښانه او مستند ډول بیانېدای شي.

په ټوله کې، د امنیت عامه دېوان د خپلو صلاحیتونو په حدودو کې د قضائي مسئولیتونو اداء کول، د حقوقي او جزائي قضیو حل او فصل او د شرعي عدالت د تأمین هڅې د خپلو مهمو فعالیتونو په توګه ترسره کوي او تر سره کړي یې دي.

۱۴مه پوښتنه: د امنیت عامه دېوان د قضائي چارو پر وړاندې کومې مهمې ننګونې شته او د هغو د حل لپاره کوم عملي اقدامات ترسره شوي دي؟

ځواب: د الله تعالی په فضل په اسلامي امارت او اسلامي نظام کې تر ډېره ننګونې حل شوې دي؛ البته امنیت عامه دېوان د خپلو قضائي مسئولیتونو د ترسره کولو پر مهال له یو شمېر اداري، حقوقي او اجرائیوي ننګونو سره مخ کېدای شي. د دغو ننګونو د اغېزمن مدیریت لپاره د قضیو منظم تعقیب، د اسنادو بشپړتیا، د اړوندو ادارو ترمنځ همغږي او د قضائي اجراآتو د کیفیت لوړول ځانګړی اهمیت لري.

د مهمو ننګونو له ډلې څخه د قضیو د اسنادو او شواهدو نېمګړتیا، د اړوندو مراجعو له لوري د معلوماتو په ترلاسه کولو کې ځنډ، د قضیو زیاتوالی، د حقوقي او شرعي موضوعاتو پېچلتیا او د قضائي اجراآتو د بشپړتیا اړتیا یادولای شو. دا ډول ستونزې د قضیو د څېړنې بهیر اغېزمنولای شي او د حل لپاره یې منظمې او عملي لارې چارې اړینې دي؛ د دغو ننګونو د حل لپاره لاندې اقدامات مهم دي:

۱. د قضیو منظم مدیریت: د قضیو د ثبت، تعقیب او د اسنادو د تنظیم لپاره د منظم کاري بهیر رامنځته کول، څو د قضیو د ورکېدو، تکرار او غیر ضروري ځنډ مخه ونیول شي.

۲. له اړوندو ادارو سره همغږي: د اسنادو او معلوماتو د پر وخت ترلاسه کولو لپاره د اړوندو ادارو ترمنځ د همکارۍ پیاوړتیا، تر څو د قضیو د څېړنې بهیر له غیر ضروري خنډونو سره مخ نشي.

۳. د اسنادو او دلایلو بشپړتیا: د قضیو له دقیقې څېړنې مخکې د اړوندو اسنادو او شواهدو ارزونه او د نیمګړتیاوو د بشپړولو لپاره د اصولو مطابق لازم اقدامات ترسره کول.

٤. د مسلکي وړتیا لوړول: د قضائي مسئولینو او کارکوونکو د شرعي، حقوقي او مسلکي پوهې پیاوړتیا، تر څو پېچلې قضیې په لا ډېر دقت او مسئولیت وځېړل شي.

۵. د سرعت او عدالت ترمنځ توازن: د قضیو د پر وخت حل او فصل لپاره د منظم کاري پلان تطبیقول، پرته له دې چې د قضائي څېړنې دقت، بې‌طرفي او د خلکو د حقوقو ساتنه زیانمنه شي.

په پای کې، د امنیت عامه دېوان د قضائي چارو د لا ښه ترسره کولو لپاره د ستونزو پېژندنې، د اجراآتو د اصلاح، د اداري همغږۍ او د مسلکي وړتیا د پیاوړتیا اهمیت ته پاملرنه کوي؛ د دې اقداماتو بریالیتوب هغه مهال په روښانه ډول څرګندېدلای شي، چې د ترسره شویو اصلاحاتو او عملي فعالیتونو مستند معلومات هم ورسره وړاندې شي.

۱۵مه پوښتنه: د قضائي چارو د لا ښه‌والي، د جرمونو د مخنیوي او د عامه حقوقو د ساتنې لپاره د امنیت عامه دېوان راتلونکي پلانونه څه دي؟

ځواب: د امنیت عامه دېوان راتلونکي پلانونه د قضائي چارو د کیفیت لوړولو، د قضیو د پر وخت حل او فصل، د جرمونو د مخنیوي او د خلکو د حقوقو د لا ښه ساتنې پر محور راڅرخي.

د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره اړینه ده، چې قضائي اجراآت لا منظم، د اسنادو او دلایلو ارزونه لا دقیقه او د قضیو د تعقیب بهیر لا اغېزمن شي. د دغو موخو لپاره لاندې برخې د راتلونکو پلانونو په توګه ځانګړی اهمیت لري:

۱. د قضائي اجراآتو لا ښه والی: د قضیو د ثبت، څېړنې، تعقیب او فیصلې په پراوونو کې د کاري بهیر منظمول، څو قضیې په مناسب وخت او له لازم دقت سره حل او فصل شي.

۲. د جرمونو د مخنیوي لپاره قضیو ته اغېزمنه رسېدنه: د هغو قضیو دقیقې څېړنې ته پاملرنه، چې د عامه مالونو، د خلکو د شخصي حقوقو او د اداري امانتونو له ساتنې سره تړاو لري، څو د جرمونو د تکرار د مخنیوي لپاره لازم قضائي اقدامات ترسره شي.

۳. د عامه حقوقو ساتنه: د اشخاصو او ادارو د حقوقو د خوندي کولو، د حقونو د ضایع کېدو د مخنیوي او د هرې قضیې د عادلانه څېړنې لپاره د شرعي او حقوقي اصولو رعایت.

٤. د اداري همغږۍ پیاوړتیا: له اړوندو قضائي او تحقیقي مراجعو سره د همکارۍ او د اسنادو او معلوماتو د پر وخت تبادلې ښه کول، څو د قضیو د څېړنې پر وړاندې غیرضروري خنډونه راکم شي.

۵. د قضائي پایلو ارزونه: د ثبت شویو، حل او فصل شویو او پاتې قضیو د احصائیې منظم تحلیل، څو د قضائي چارو د پرمختګ کچه معلومه او د راتلونکو اصلاحاتو لپاره مناسبې پرېکړې وشي.

په ټوله کې، د امنیت عامه دېوان د قضائي چارو د لا ښه‌والي موخه دا ده، چې قضیې په منظم، دقیق او مسئولانه ډول وځېړل شي، د شرعي عدالت اصول رعایت شي، د جرمونو په اړه لازم قضائي اقدامات ترسره شي او د خلکو او عامه مالونو حقوق خوندي پاتې شي؛ د دغو موخو د تحقق لپاره د شرعي اصولو رعایت، مسلکي وړتیا، اداري همغږي او د قضائي فعالیتونو دوامداره ارزونه مهم بنسټونه دي.

۱۶مه پوښتنه: د خپرونې په وروستۍ برخه کې له هېوادوالو په ځانګړې توګه د محاکمو مراجعینو ته کوم پیغام لرئ ، مهرباني وکړئ راسره شریک یې کړئ.

زمونږ پیغام ټولو هېوادوالو او د امنیت عامه دېوان درنو مراجعینو ته دا دی، چې د شرعي عدالت تأمین، د حقونو ساتنه، د مظلوم د فریاد اورېدل او د قضیو عادلانه حل او فصل زمونږ له اساسي مسئولیتونو څخه دي.

مونږ ژمن یو، چې د خپل شرعي او قضائي صلاحیت په حدودو کې د خلکو حقوقي او جزائي دعوې په دقت، بې‌طرفۍ او مسئولیت وځېړو او د شرعي احکامو او نافذه اصولو مطابق یې په اړه لازمې پرېکړې وکړو.

له ټولو هېوادوالو څخه غوښتنه کوو، چې د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره له قانوني او شرعي لارو چارو څخه استفاده وکړي، خپل شکایتونه او دعوې له اړوندو اسنادو او معتبرو دلایلو سره وړاندې کړي او د قضائي بهیر په ټولو پراوونو کې له اړوندو مراجعو سره لازمه اصولي او شرعي همکاري وکړي.

همدارنګه، له مراجعینو غواړو، چې د خپلو قضیو د تعقیب پر مهال حوصله، نظم او د قضائي اصولو رعایت په پام کې ونیسي؛ ځکه د هرې قضیې عادلانه څېړنه دقت، بشپړو معلوماتو او د اړوندو دلایلو ارزونې ته اړتیا لري.

مونږ ډاډ ورکوو، چې د خلکو د حقوقو ساتنه، د عامه مالونو صیانت، د بې‌عدالتۍ مخنیوی او د قضائي مسئولیتونو پر وخت ترسره کول زمونږ دکار مهمې موخې دي؛ زمونږ هیله دا ده، چې د خلکو او قضائي مراجعو ترمنځ د متقابل اعتماد فضا نوره هم پیاوړې شي او هر څوک وکولای شي خپل شرعي او حقوقي حقونه د اړوندو اصولو له مخې ترلاسه کړي.

په پای کې، له ټولو هېوادوالو څخه غواړو، چې د حق، عدالت، امانت‌داری او د یو بل د حقوقو د رعایت په برخه کې خپل مسئولیت اداء کړي؛ ځکه د یوې سالمې ټولنې اساس د حقونو پر ساتنه، د مسئولیت پر پېژندنه او د عدالت پر تأمین ولاړ دی.

همداراز له دوی څخه غواړم، چې د دښمن، ناخبره او نا اهله خلکو د دسیسو، چې د اسلامي امارت د محاکمو په هکله بې‌ثبوته او بې‌ځایه تبلیغات کوي، ښکار نشي او له حقیقت او واقعیت څخه ځان باخبره وساتي د حقیقي مشکل په صورت کې اړونده با صلاحیته مراجعو ته مراجعه وکړي.

مسئول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جواد‌الله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د ستړي محکمې دغه څرګندويه خپرونه په مياشت کې درې ځله چاپيري

د ستړي محکمې د اداري مرستيال په مشرۍ يوه لوړ رتبه پلاوي خوست ولايت ته رسمي سفر وکړ

د ستړي محکمې د اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله «سعيد» صاحب په مشرۍ يوه لوړ رتبه پلاوي، چې د قضائي تفتيش عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن «فراهي»، د استخدام او سوانحو رئيس محترم مفتي عبدالوارث «سعيد»، د قضائي تفتيش عمومي رياست مسلکي غړي مفتي بخت الله «مدني»، د ستړي محکمې اطلاعاتو ته د لاسرسي او پراختيايي بوديجې عمومي مديرانو يې غړيتوب درلود، د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال د جمادی الأولی مياشتې په ۱۹ مه نېټه، د ولايتي محاکمو د چارو د ارزونې او د هغوی د اړتياوو د تشخيص په موخه خوست ولايت ته رسمي سفر وکړ.

د ستړي محکمې اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله «سعيد» صاحب او ورسره مل پلاوي د ياد سفر پر مهال د خوست ولايت د مرافعه محکمې په تالار کې د دغه ولايت د مرافعې له رئيس محترم الحاج مفتي فيض الله «فياض» او قضائي غړو، د ښاري ابتدائيه او ولسواليو ابتدائيه محاکمو له مسئولينو سره ناسته وکړه.

غونډه د قرآنکريم د مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د ستړي محکمې اداري مرستيال محترم شيخ سخاءالله «سعيد» صاحب ګډونوالو ته هر اړخيزه او ارزښتناکه وينا وکړه او وې وويل، د ستړي محکمې د رهبرۍ د لارښوونې او اړتيا له مخې يې مناسبه وګڼله، څو د ستړي محکمې د رهبرۍ په کچه يو پلاوی خوست ولايت ته سفر وکړي او د ياد ولايت د محاکمو قضائي او اداري مسئولينو ستونزې، مشکلات او وړاندیزونه له نږدې واوري.

شيخ صاحب زياته کړه، هغه موضوعات، چې د پلاوي په واک او صلاحيت کې وي، په همدې ځای کې به ورته رسېدنه وشي او هغه موضوعات، چې د ستړي محکمې د محترم عالي مقام اړوند وي، له ياد مقام سره به شريک شي، څو د حل او فصل په اړه يې لازم اقدامات ترسره شي.

نوموړي د خپلې وينا په دوام کې څرګنده کړه، چې مور بايد لومړی د الله تعالی او ورپسې د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله‌تعالی) او خپلو مشرانو شکر اداء کړو، چې الحمدلله په ټول ملک کې اسلامي امارت بشپړ حاکميت لري؛ الله تعالی مور ته د يوه ستر نعمت په توګه دا توفيق راکړی، چې په ټول ملک کې د اسلامي نظام تر سيوري لاندې ژوند وکړو؛ نو اړينه ده، چې د دغه ستر نعمت شکر پر ځای کړو او داسې کړنې ترسره نه کړو، چې خدای مه کړه د نعمت د ناشکرۍ له امله له دغه ستر نعمت څخه محروم شو.

محترم شيخ سخاءالله «سعيد» صاحب محاکم په نظام کې د زړه حيثيت ته ورته وبلل او وويل، لکه څنګه چې د زړه روغتيا د ټول بدن پر روغتيا اغېز لري او د زړه ناروغي د بدن پر ټولو غړو اغېز کوي، همداسې که محاکم خپلې پرېکړې او اجراآت د شرعي احکامو او د اسلامي امارت د نافذه او توشيح شويو اصولو په رڼا کې ترسره کړي، نظام به د الله تعالی په مرسته ټينګ او پايدار وي؛ خو که خدای مه کړه، محاکم خپلې پرېکړې او اجراآت د شرعي احکامو او نافذه اصولو خلاف ترسره کړي، د نظام دګډوډۍ او کمزورۍ لامل به وګرځي.

شيخ صاحب د خوست ولايت د محاکمو مسئولينو او منسوبينو ته تر تفصيلي او ارزښتناکه وينا وروسته لاندې هدايات وکړل:

۱. د عريضې او شکايت د ترلاسه کېدو په صورت کې دې د مرافعه محکمې عمومي رئيس ماتحت محاکمو ته د ارجاع پر مهال د «اصولي اجراآتو» پر ځای د عارض ستونزې ته د مستقيمې رسېدنې حکم وکړي.

۲. د يوې دوسيې د نقض پر مهال بايد د نقض ټول موارد په څرګند او مشخص ډول ذکر او د نقض دلايل په مستند او قوي اسنادو ولاړ وي.

۳. ټول قضائي او اداري منسوبين دي دنده ته په ټاکلي وخت حاضر او خپلې دندې دې په پوره اخلاص، صداقت او امانتداری ترسره کړي.

۴. د محاکمو قضائي او اداري منسوبين دي خپل کاري مسئوليتونه او چارې د سلا او مشورې، متقابل تفاهم او بشپړې همغږۍ له مخې ترسره کړي او له هغو کړنو به ځانونه وساتي، چې د محکمې د بدنامۍ او د قضيې د جانبينو د ناهيلۍ او زړه ماتوالي لامل ګرځي.

دغه راز يادې ناستې ته د ستړي محکمې د قضائي تفتيش عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن «فراهي» صاحب تر وينا وروسته د ستړي محکمې مؤظف پلاوي د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو د دېوانونو او ولسواليو ابتدائيه محاکمو له رئيسانو سره په جلا جلا ډول وليدل او د هغوی ستونزې او اړتياوې يې واورېدلې.

د يادونې وړ ده، چې د ستړي محکمې اداري مرستيال او ورسره مل پلاوي، د دغه سفر په جريان کې د خوست له والي محترم الحاج مولوي عبدالرحمن «حقاني»، د استخباراتو مرستيال، علماوو شورا رئيس، امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکايتونو د اورېدو او د اقداموِ او قبايلو له آمرينو سره په ليدنه کې د بنديانو اړوند موضوعاتو او محاکمو د چارو د لا ښه‌والي په موخه ناسته وکړه او د يادو موضوعاتو اړوند يې لازم تصاميم ونيول.

د ستړي محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د ملکي محاکمو د امنيتي قطعاتو عمومي قوماندان پنځو ولايتونو ته رسمي سفر وکړ

د ستړي محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د ملکي محاکمو د امنيتي قطعاتو عمومي قوماندان محترم الحاج مولوي مطيع الله «فاروقي» د يوه پلاوي په ملتيا، د روان ۱۴۴۸ هـ ق کال د جمادی الأولی مياشتې په ۱۵ مه نېټه د ملک پنځو ولايتونو [فارياب، بلخ، سمنګان، جوزجان او سرپل] ته د يادو ولايتونو د محاکمو د امنيتي قطعاتو د چارو د نظارت او ارزونې په موخه سفر وکړ.

د ستړي محکمې د امنيتي او اجرائيوي عمومي رياست پلاوي د يادو ولايتونو د مرافعه، ښاري او ولسواليو د ابتدائيه ولايتونو د مقام، امنيه قوماندانيو، مرافعه محاکمو او ښاري ابتدائيه محاکمو او اړوندو جزوتامونو له مسئولينو سره جلا جلا ليدنې وکړې او د اړوند ادارو ترمنځ د لا ښې همغږۍ او همکارۍ غوښتنه يې وکړه.

د يادونې وړ ده، چې د سفر په لړ کې د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د پلاوي مسلکي مسئولينو د دغه ولايتونو د ملکي محاکمو امنيتي منسوبينو ته لنډ نظامي او عقيدوي درسونه هم وړاندې کړل، چې د شرعي او نظامي آدابو ارزښت، د وسلو د کارونې، تالاشۍ او پهره‌داری اړوند ملکي محاکمو د امنيتي قطعاتو له مسئولينو سره جلا جلا غونډې وکړې.

په يادو غونډو کې د محاکمو د امنيتي وضعيت، د قضاتو او قضائي تأسيساتو د امنيت د تأمين، د امنيتي چارو د لا ښه‌والي او د موجوده اړتياوو د اکمال په اړه پر تفصيلي بحث او خبرو سربېره، د امنيتي قطعاتو او قضائي مراجعو ترمنځ پر لا زياتې همغږۍ او د امنيت د ټينګښت په موخه د اړينو تدابيرو پر نيولو ټينګار وشو.

همدارنګه محترم الحاج مولوي مطيع الله «فاروقي» د يادو اصول او شرايط په کې شامل وو.

د سفر په پای کې محترم الحاج مولوي مطيع الله «فاروقي» د متقابل درناوي، دوامدارې همغږۍ او ګډې همکارۍ پر اهميت ټينګار وکړ، څو د قضاتو او محاکمو د تأسيساتو امنيت په لا ښه توګه تأمين شي.

د امنيتي او اجرائيوي چارو عمومي رياست د پلاوي له لاسته راوړنې ډک دغه رسمي سفر د جمادی الأولی مياشتې په ۲۰ مه نېټه پای ته ورسېد.

قضائي احکام او فرامين (۷)

د اسلامي امارت پر کارکوونکو او مسئولينو د بې‌ځايه تورونو او د هغوی د بې قدرۍ کولو د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی فرمان

ګڼه: (۳۵)
نېټه: ۱۴۴۳/۱۲/۱۹ هـ.ق

د اسلامي امارت پر کارکوونکو او مسئولينو د بې‌ځايه تورونو او د هغوی د بې قدرۍ کولو د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی فرمان

د اسلامي لارښوونو سره سم پر مسئولينو باندې بې‌ځايه تورونه لګول او له واقعيت څخه لرې نقد کول شرعًا جواز نه لري، ارجاف او شايعات خپرول په اسلام کې ځای نه لري او د مسلمانانو تر منځ هم د کرکې او نفرت سبب کېږي، اعتبار او باور له منځه وړي او همتونه کمزوري کوي.

الله تعالی فرمايي:

ژباړه: هغه څه مه تعقيبوه، چې تاته د هغه علم نه وي؛ غوږونه، سترګې او زړه، هر يو د دوی څخه هرومرو پوښتل کېدونکي دي. [الاسراء:۳۶]

په دې هکله رسول الله (صلی‌الله‌عليه وسلم) فرمايي:

«كَفَى بالمرءِ كذِبًا أن يحدِّثَ بِكُلِّ ما سمِعَ» (رواه مسلم)

يعنې رسول الله (صلی‌الله‌عليه‌وسلم) هغه څوک دروغجن بللی، چې کومه خبره واوري او (پرته له دې، چې سپيناوی يې وکړي) نورو ته يې رسوي.

دغه ډول منفي تبليغات په ټولنه کې اضطراب پيدا کوي او په غير شعوري توګه له دښمنانو سره مرسته کوي.

رسول الله (صلی‌الله‌عليه‌وسلم) فرمايي: «من كان يؤمن بالله واليوم الآخر ففليقل خيراً او ليصمت» (متفق عليه)

ژباړه: څوک چې په الله او آخرت ايمان لري؛ نو يا دې حق خبره وکړي يا دې پټه خوله واوسي. په بل حديث کې پيغمبر (عليه السلام) فرمايي:

«بئس مطية الرجل زعموا» (رواه ابوداود)

ژباړه: د سړي بد عادت دا دی، چې په (دوی ويل/ چا ويل) باندې استدلال کوي.

د اسلام له نظره دغه کار د تعزير (سزا) وړ ګرځي.

په دې هکله فقهاء (رحمهم الله) ليکي: (التعدی على الموظفين العموميين والمكلفين بخدمة يستحق التعزير ومن الأمثلة التي أوردها الفقهاء في هذا المجال اهانة العلماء أو رجال الدولة بما لا يليق سواء كان ذلك بالاشارة او القول او بغير ذلك والتعدي على أحد الجنود باليد او تمزيق ثيابه أو سبه ففيه التعزير والتضمين عن التلف ومن ذلك اهانة محكمة قضائية وكذلك جرائم الجلسة فالقاضي له فيها التعزير وإن عفى فحسن... الموسوعة الفقهية، ج ۱۲ ص ۲۸۳ الفتاوى الأسعدية ج ۱ ص ۱٦٦ـ۱٦۷.

ژباړه: پر عامو (حکومتي) کارمندانو او هغوی، چې پر عمومي خدماتو ګمارل شوي وي، تېری کول د تعزير (سزا) ورکولو لامل ګرځي، له دې جملې څخه فقهاء کرامو د علماوو او حکومتي کارکوونکو سپکاوی، چې د دوی له شان سره مناسب نه وي، (هغه که په اشاره، وينا او يا بل څه وي)، د بېلګې په توګه ياد کړي دي. همدا راز کوم عسکر ته لاس اچول، يا يې جامې څېرل او يا هم بد رد ورته ويل، نو په دې کې تعزير (سزا) ورکېږي او (د جامو څېرولو) تاوان ورڅخه اخيستل کېږي. همدارنګه د قضائي محکمې سپکاوی او قضائي مجلس اخلالول؛ نو په دې صورتونو کې قاضي تعزير (سزا) ورکولای شي، خو عفوه بهتره ده.

پورته اسلامي لارښوونې د ټولو هېوادوالو، مجاهدينو او خبرې رسنيو لپاره شرعي مسئوليت جوړېږي. چې عمل ورباندې وکړي.

والسلام
اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث
مولوي هبة الله اخندزاده

ميزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc۱۴۴۳@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلېفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳